محمدامین بسمل

۱۷.۰۵.۱۰

## دنښتر دودیزه کالنۍ مېله اومشاعره ترسره شوه

قدرمنو لوستونکو !

د جرمني په بايرن ايالت کې به دنښتردلمانځنې په اړوند تاسوګرانو خويندو او ورونو ته زه محمدامين بسمل دومره عرض کړم چې زموږ مشاعره دغرمې په يوولسنيموبجود قران پاک دځومبارکو ايتونو په تلاوت سره پيل شوه.

وروسته دتخنيکي وسيلي په مرسته دلويي پکتيا دکولتوري ټولنو دجرګې په استازيتوب د ښاغلي ډاکټر عبدالهادي حماس له خوا ثبت شوی پيغام زموږ دغونډې ګډونوالو ته واوراوه بيا ما محمدامين بسمل دنښتر د دودېزې کالنۍ مشاعرې د اړتيا او د نښتر اوسنيو لاس ته راوړنو په اړوند ګډونوالو ته خبرې وکړې په دې طرځ کې ملګرو هيله وکړه چې د هغې شخړې کيسه ورته وکړم کومه چې زما او د لويې پکتيا د پخواني والي خدای بخښلي حکيم تنيوال ترمينځ د نښتر دنوم په سر را پورته شوې وه چې په نتيجه کې زه بريالی شوم ځود نښتر نوم پرې ومنم البته زما اوشهيد تنيوال ترمينځ دا يوه نه هېرېدونکي خاطره ده له هغه ځخه وروسته زموږ داسې ټينګه ملګرتيا پيل شوه چې هر وخت به يې تيليفوني اړيکه راسره نيوه دژونديه ورستيو مياشتو کې يې ځو ځوځلي په ټينګارسره راته وېل چې دالوتکې ټکټ هم زه درته اخلم خو ته په کال کې يودوه ځلې راځه لمړی خوبه په زرمت کې پخوانی دتوتانومېله چې دطالبانوپه مېله هم مشهوره وه له سره راژوندی کړوبيابه داد نورو کولتوري مسائيلوغم خوروپه هرصورت بخت ياري ونه کړه تنيوال صاحب هم په شهادت ورسېد الله پاک دې وبخښي دلته داکيسه لندوم راځم دنښتر لمانځنې ته .

زما له خبرو ځخه وروسته رسمأ زموږ مشاعره پيل شوه چې په سر کې يې له اتريش ځخه زموږ مېلمه ښاغلي نسيم بهارخپل خوږ غزل ګډونوالو ته واوراوه له هغه ځخه وروسته ښاغلي عبدالمتين بزم، نعيم، او اکبرخان خپل ليکلي شعرونه چې د نښتر په اړوند وموږ ته واورول ورپسې ښاغلي جمال او زموږ نورو ملګرو د هغو درنو شاعرانو را ليږل شوي ښايسته غزل ولوستل کوم چې له موږ ځخه په لرې واټنوکې اوسېږي لکه له کابل ځخه د ښاغلي سيدجيلاني جلان راليږلي دوه په زړه پورې غزل، له پېښور ځخه

دښاغلي یوسف شاه سپیلني لخوارالیږلي دوه خواږه غزل، له مسکو څخه دښاغلي فاروق فردایوښکلی ازادنظم او همداراز له سویډن څخه د ښاغلي عبدالسلام اندړ ښکلی شعر.

زموږ دښتر لمانځني دمازدیګر تر شپږو بجو پورې دوام وکړ له هغه څخه وروسته مو په پردیسو سترګو خپل ګران پردیس ګډونوال او مېلمانه رخصت او خپلو کورونو ته راغلو .

یادونـــــــــــــه :

دښتر دودیزه کـالنی مېلـه او مشاعره د۱۳۸۴ وم لمریز کـال دلړم پـه شلمه نېټـه چـې د ۲۰۰۵ زېږدیز کـال دنومبر له یوولسمي نېټې سره سمون خوري دلويي پکتیا پـه مرکز ګردېز ښاراودجرمني دبـایرن آیالت پـه مونشن ښارکي دلمړي ځل لپاره دود او په یوه ورځ ولمانځل شوه چي اوس یې هم د دودله مخې هرکال موږ پـه ګډه لمـانځو، زه محمـدامین بـسمل دبـایرن مېشتوافغانانو دکولتـوري ټـولني او د تـاریخي لـويي پکتیـا دکولتـوري ټولنودجرګي په استازیتوب لـه ټولـو هغوقدرمنو،ګډونوالواو مېلمنو څخـه د زړه لـه تلـه مننـه کوم کومـوچې پـه لویه پکتیا او بایرن آیالت کې له موږ سره په دې لمانځنوکې برخه اخیستي وه همدارازله ډېرګران اونـازک خیـال شاعر ښاغلي سیدجیلاني جلان اوښاغلي ساحل منګل څخه په ځانګړي ډول مننه کوم چې لـه کابل څخـه یـې دګڼ شمېرمېلمنو په پالنــه کې ونډه اخیستي وه، دلويي پکتیا له محترم والي ښاغلي جمعه خان همدردڅخـه ډېـره مننـه کوم چي زموږ فرهنګیان یې ونازول له ښاغلي رحیم ګردېزي څخه هم مننـدوی یم چي دښـتر دلمانځنې لګښت یي په غاړه اخیستی و .